# د پطروس رسول اول خط

# پېژندګلو

د پطروس رسول د خط لوستونکی د هغه ناکردو او مصیبتونو په وجه شکمن او بې‌زړۀ شوی وُو کوم چې د خپل ایمان په وجه په کښې راګیر شوی وُو. په دې خط کښې پطروس په هغوئ زور راوړے دے او ورته یې د تکړه کېدو حوصله ورکړې ده، او هغوئ ته یې بار بار د حضرت عیسیٰ مسیح د ژوندون مثالونه ورکړی دی او دا یې هم ورته فرمائیلی دی چې ستاسو د میراث لویه خزانه په حضرت عیسیٰ مسیح کښې ده، او دُنیا ته د هغۀ د بیا راتلو امید او جنت ته د بوتلو طمع ورکړې ده. په دې خط کښې پطروس د دې خبرې وضاحت کوی چې په ایماندارانو به د ایمان په وجه تکلیفونه راشی



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو هغوئ به بیا هغه څنګه برداشت کوی. دې خط ته د رسولانو امید هم وئیلے شی، د پطروس اول پیغام دا وو چې په خُدائ پاک باور ساتئ په هر حالت کښې په فرمانبردارئ سره ژوند تیروئ. او ورته یې حکم کړے دے چې خپله توجو د خُدائ پاک خلاصون ته ورکړئ، تکلیفونه به ضرور راځی خو دا به د لږ وخت دپاره وی خو فضل به د هغه چا دپاره وی څوک چې په خپل ایمان تر آخره ټینګ او قائم پاتې شی. د حفظ کولو دپاره ۵:۷ آیت ”او خپله ټوله پریشانی په هغۀ واچوئ ځکه چې هغه ستاسو خیال ساتی.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# دُعا او سلام

۱ د پطروس د طرف نه چې د عیسیٰ مسیح رسول دے، د
خُدائ پاک د هغه غوره شوو مهاجرینو په نوم چې د پونطوس،
ګلتیه، کپدوکیه، آسیه او بتونیه په صوبو کښې خوارۀ وارۀ دی، ۲
تاسو چې خُدائ پلار د ازل نه د خپل عِلم په مطابق د روحُ القُدس
په وسیله مقدس کړئ او د عیسیٰ مسیح د وینی تویولو په وسیله یې
تاسو د هغۀ تابعدار کړئ، په تاسو دې ډېر فضل او سلامتی وی.

# د ابدی ژوند اُمید

۳ زمونږ د مالِک عیسیٰ مسیح د خُدائ پاک او پلار دې ثنا
وی، چې په خپل لوئ رحمت یې د عیسیٰ مسیح د مړو نه د بیا



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ژوندی کېدو په وسیله مونږ له د ژوندی اُمید دپاره نوے ژوند راکړو،
۴ او چې یو نۀ فنا کېدونکے، بې‌داغه او لازواله میراث حاصل
کړُو، چې ستاسو دپاره په آسمان کښې ساتلے شوے دے، ۵ کوم
چې خُدائ پاک د ایمان په وسیله په خپل قُدرت سره محفوظ ساتی
یعنې هغه خلاصون چې هغه په آخری وخت کښې ښکاره کېدو ته
تیار دے. ۶ نو په دې وجه تاسو خوشحالی وکړئ، اګر چې اوس
تاسو د لږ وخت دپاره مختلف تکلیفونه وزغمل. ۷ او دا آزمېښتونه
به دا خبره ثابته کړی چې ستاسو ایمان اصلی دے، او دا وآزمائیلے
شو لکه څنګه چې سرۀ زر په اور آزمائیلے کیږی، خو ستاسو ایمان د
فانی سرو زرو نه ډېر زیات قیمتی دے. نو ستاسو ایمان به د عیسیٰ
مسیح د راښکاره کېدو په ورځ د جلال او احترام سبب شی. ۸
تاسو هغۀ سره داسې مینه کوئ اګر چې هغه مو لیدلے نۀ دے. او
نۀ یې اوس وینئ، خو تاسو په هغۀ یقین ساتئ، او په جلالی انداز
کښې خوشحالی کوئ کومه چې د بیان نه بهر ده. ۹ او ستاسو د
ایمان اجر به ستاسو د خپل ځان د خلاصون حاصلول وی. ۱۰ د


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې خلاصون په حقله نبیانو ډېر لټون او تحقیق وکړو او د هغه فضل په حقله یې پېشګوئی وکړه کوم چې په تاسو کېدونکے وو. ۱۱ د مسیح روح په هغوئ کښې وو او دا ګواهی یې ورکوله چې مسیح به تکلیفونه وزغمی او بیا به جلال وموميی، نو بیا نبیانو دا کوشش وکړو چې د روح دا اِشاره به په څۀ وخت او په کوم حالت کښې پوره کیږی. ۱۲ هغوئ ته وئیلے شوی وُو چې د هغوئ زیرے د هغوئ د خپل ځان دپاره نۀ وو بلکې ستاسو دپاره وو. نو اوس دا زیرے تاسو ته د هغه چا په وسیله چې د روحُ القُدس په طاقت سره چې د آسمان نه نازل شوے دے بیان شو. دا داسې عجیبه خبرې دی چې فرښتې هم په لیوالتیا سره د دې د کېدو خواهش کوی.

# د پاک ژوندون دپاره رابلل

۱۳ نو په دې وجه خپله په ذهنی توګه ملا وتړه، او په خپل ځان قابو وساته، او خپل مکمل اُمید په هغه فضل ساتئ کوم به چې



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عیسیٰ مسیح تاسو له درکړی کله چې هغه راڅرګند شی. ۱۴ تاسو
لکه د تابعدارو بچو په شان شئ، او د خپل جهالت د زمانې غوندې
د زړو خواهشاتو غلامان مۀ جوړېږئ. ۱۵ څنګه چې ستاسو رابلونکے
پاک دے نو هغه شان تاسو په خپل ټول چال چلن کښې خپل ځان
پاک کړئ ۱۶ لکه چې صحیفې فرمائی چې، "پاک شئ ځکه چې
زۀ پاک یم." ۱۷ او دا خبره یاد ساتئ هغه آسمانی پلار چا نه چې
تاسو دُعا غواړئ هغه د چا طرفداری نۀ کوی. بلکې هغه به ستاسو
اِنصاف کوی او ستاسو د عمل په مطابق به تاسو له اجر درکړی، نو
بیا په دُنیا کښې خپل ژوند د هغۀ نه په یرې او لکه د مسافرو په
شان تېروئ. ۱۸ نو تاسو په دې پوهه یئ چې خُدائ پاک ستاسو په
ځائ فدیه ورکړه چې تاسو له د هغه بې‌فائدې ژوندون خلاصون
درکړی کوم چې تاسو ته ستاسو د پلار نیکونو نه په میراث کښې
پاتې شوے وو. او کومه فدیه چې هغۀ ورکړه نو هغه فانی سرۀ یا
سپین زر نۀ وُو، ۱۹ بلکې د مسیح قیمتی وینه وه. هم هغه لکه د
روغ رمټ او بې‌داغه ګډُوری په شان قربان شو. ۲۰ هغه د دُنیا د


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پیدایښت نه اول غوره شوے وو، خو په آخره زمانه کښې ستاسو
دپاره ښکاره شو، ۲۱ د هغۀ په وسیله تاسو په هغه خُدائ ایمان راوړو
چا چې هغه د مړو نه بیا راژوندے کړو او جلال یې ورکړو د دې
دپاره چې ستاسو ایمان او اُمید په خُدائ پاک وی. ۲۲ تاسو د خپلو
ګناهونو نه هغه وخت پاک شوئ کله چې تاسو د حق تابعداری
وکړه، نو اوس تاسو د یو بل سره د زړۀ نه لکه د ورونو او خوښدو په
شان مینه کوئ، په خپلو کښې د یو بل سره د زړۀ د کومې نه مینه
ساتئ. ۲۳ ځکه چې ستاسو دوباره پیدا کېدل د فانی کېدونکی
تخم نه نه بلکې د نۀ فانی کېدونکی تخم نه د خُدائ پاک د
ژوندی او قائم کلام په وسیله بیا پیدا شوئ یئ. ۲۴ ځکه چې، ”هر
انسان د واښو په شان دے او د دوئ ټول شان او شوکت د ځنګلی
ګل په شان دے، واښۀ اوچیږی او ګل رژیږی ۲۵ خو د مالِک خُدائ
کلام د همېشه دپاره قائم وی.“ او دا کلام هغه زیرے دے کوم
چې تاسو ته بیان شوے وو.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# ژوندے کانړے او پاک قوم

۱ نو ځکه بیا هر قِسم بدی، فریب، ریاکاری، کینه او هر قِسم
بده وینا پرېږدئ. ۲ لکه د نوؤ پیدا شوو ماشومانو په شان د خالص
روحانی پیو خواهشمند اوسئ نو چې د دې په وسیله تاسو په
خلاصون کښې لوئ شئ. ۳ اوس تاسو د مالِک د مهربانه کېدو
خوند اخستے دے. ۴ نو مسیح ته راشئ چې ژوندے کانړے دے
اګر کهٔ بنی آدمو هغه رد کړے دے خو هغه غوره کړے شوے او د
خُدائ پاک په نظر کښې قیمتی دے. ۵ تاسو هم د ژوندو کانړو په
شان یئ چې خُدائ پاک تړې نه خپل روحانی کور جوړوی چې د
اِمامانو مقدسه فرقه په جوړېدو داسې روحانی قربانۍ پیش کړئ چې د
عیسیٰ مسیح په وسیله خُدائ پاک ته قبولې وی. ۶ ځکه چې
صحیفې فرمائی چې، ”ګورئ، زهٔ په صیون کښې د ګوټ غوره
کړے او قیمتی کانړے ږدم، او څوک چې په هغهٔ ایمان راوړی هغه به
شرمنده نهٔ شی.“ ۷ نو بیا ستاسو دپاره چې ایمان مو راوړے دے،



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه قیمتی دے خو چا چې ایمان نۀ دے راوړے د هغوئ دپاره،
”کوم کانړے چې ګِلکارانو رد کړو هغه د ګوټ سر کانړے شو،“ (۸)
او، ”یو داسې کانړے چې د تیندک باعث جوړیږی او خلق پرې
تیندک خوری او راغورزیږی.“ هغوئ تیندک خوری ځکه چې هغوئ
د کلام نافرمانی کوی او هغوئ د دې کولو دپاره اول نه مقرر شوی
وُو. (۹) خو تاسو یو غوره کړے شوے نسل، د شاهی اِمامانو فرقه،
مقدس قوم، او د خُدائ پاک خپل اُمت یئ، د دې دپاره چې تاسو
د هغۀ لوئ کارونه بیان کړئ چا چې تاسو د تیارې نه خپلې عجیبه
رڼا ته راباللی یئ. (۱۰) مخکښې تاسو د خُدائ پاک اُمت نۀ وئ خو
اوس یئ، مخکښې په تاسو رحمت نۀ وو شوے خو اوس په تاسو
رحمت وشو.


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د خُدائ پاک د خادِمانو په شان ژوند تېرول

۱۱ خوږو ملګرو، زۀ تاسو له خبردارے درکوم چې تاسو خپل ځانونه مسافر او مهاجر وګڼئ، د هغه جسمانی خواهشونو نه ځان ساتئ چې ستاسو د نفس سره جنګ کوی. ۱۲ په غېرېهودیانو کښې خپل چال چلن نېک ساتئ، تر دې چې کله هغوئ ستاسو خلاف لکه د بدکارو په شان بدرد هم وائی، خو هغوئ ستاسو نېک کارونه ووینی او د عدالت په ورځ د خُدائ پاک ثناء ووائی. ۱۳ د مالِک دپاره د بنی آدم د هر یو اِنتظام تابع اوسئ، لکه د بادشاه چې هغه د ټولو نه لوئ دے، ۱۴ او یا د حاکمانو چې هغه د بدکارانو د سزا او د نېکانو د تعریف دپاره هغۀ مقرر کړی دی. ۱۵ ځکه چې دا د خُدائ پاک رضا ده چې تاسو نېکی کوئ او په دې کولو سره د ناپوهه خلقو د جهالت خبرې خاموشه کړئ. ۱۶ تاسو آزاد یئ او آزاد



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ژوند تېروئ، خپله آزادی د بدیٰ کولو پرده مۀ جوړوئ بلکې د خُدائ پاک د غلامانو په شان ژوند تېروئ. ۱۷ د هر چا عزت کوئ، د ایماندارانو د خاندان سره مینه کوئ، د خُدائ پاک نه یرېږئ او د بادشاه عزت کوئ.

# د حضرت عیسیٰ مسیح د مصیبتونو زغملو مثال

۱۸ اے نوکرانو، ډېر په احترام سره د خپلو مالِکانو تابع اوسئ، نۀ صرف د نېکانو او حلیمانو بلکې د بد مزاجه هم تابعداری کوئ. ۱۹ نو کۀ څوک د خُدائ پاک د مرضی خیال ساتی او په ناحقه مصیبتونه او دردونه زغمی نو دا د هغۀ دپاره د خُدائ پاک فضل دے. ۲۰ ځکه کۀ تاسو په ګناه کولو وهل وخوړل او صبر مو وکړو، نو بیا ستاسو اجر د څۀ خبرې؟ خو کۀ په نېکیٰ کولو مصیبت



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وزغمئ نو دا ستاسو دپاره د خُدائ پاک فضل دے، ۲۱ خو تاسو
هم دې دپاره راباللے شوی یئ، ځکه چې مسیح هم ستاسو دپاره
مصیبت وزغملو او تاسو ته یې یو مثال قائم کړو نو چې تاسو د هغۀ
په نقش قدم تلل پرې نۀ ږدئ. ۲۲ ”نۀ هغۀ څۀ ګناه وکړه، او نۀ یې
خوک دوکه کړی وُو.“ ۲۳ نۀ هغۀ د کنځلو په بدل کښې کنځل
کول او نۀ یې په مصیبتونو زغملو چا ته دهمکی ورکوله بلکې هغۀ
خپل ځان رښتونی اِنصاف کوونکی ته وسپارلو. ۲۴ هغۀ په خپله
زمونږ ګناهونه سولی ته د خپل ځان سره یوړل د دې دپاره چې مونږ
ګناهونو نه آزاد شُو او د صداقت دپاره ژوند تیر کړُو. او د هغۀ په
زخمونو تاسو شفا ومونده. ۲۵ ځکه چې تاسو د بې‌لارې ګډو په
شان ګرځیدئ خو اوس تاسو خپل شپونکی او حفاظت کوونکی له
بیا راغلی یئ.

# ښځې او خاوندان



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱ اے ښځو، هم دغه شان تاسو هم د خپلو خاوندانو تابعداري
اوسئ، نو کۀ چرې په هغوئ کښې ځينې د خُدائ پاک کلام نۀ
منی نو چې بيا هم هغوئ ستاسو چال چلن ته وګورى نو ستاسو د
خبرو نه بغېر به خُدائ پاک ته راواوړى ۲ کله چې هغوئ وګورى
چې تاسو خومره په پاکوالى سره د خُدائ پاک په يره کښې ژوند
تېروئ. ۳ ستاسو ډول او سنګار دې ظاهرى نۀ وى، يعنې سر
کمښى کول او د سرو زرو کالى او قِسما قِسم جامې اغوستل، ۴
بلکې ستاسو غېر فانى ډول سنګار دې په هغه باطنى انسانيت
کښې په حليمى او په سکون کښې وى چې د خُدائ پاک په نزد
ډېر قيمتى دے. ۵ او په پخوا زمانه کښې هم په خُدائ پاک اُميد
ساتونکو پاکو ښځو به خپل ځانونه داسې سنګارول چې د خپلو
خاوندانو تابعدارې وې، ۶ لکه څنګه چې ساره د اِبراهيم تابعداره
وه او هغۀ ته يې خپل مالِک وئيل. نو تاسو به هم د هغې لونه يئ،
خو کۀ چرې تاسو نېک کارونه کوئ او د يو خيز نه هم مۀ يرېږئ
کوم چې خلق يروى. ۷ اے خاوندانو، هم دغه شان تاسو هم د


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلو ښځو سره په احترام سره ژوند کوئ او د ښځو لکه د نازکو لوښو په شان عزت کوئ ځکه چې هغوئ تاسو سره د ژوند په نعمت کښې وارثانې دی، نو هسې نه چې ستاسو دُعاګانې د قبلېدو نه ایساري شی.

# د نېکو کارونو دپاره تکلیفونه تېرول

⑧ غرض دا چې تاسو ټول په یو زړۀ او په همدردی اوسېږئ، د وروروڼو مینه کوئ، نرم زړۀ او حلیمان اوسئ. ⑨ د بدو په بدل کښې چا سره بد مۀ کوئ او د کنځلو په بدل کښې چا ته کنځل مۀ کوئ، بلکې د دې په ځای ورله برکت وغواړئ ځکه چې تاسو د دې دپاره رابللے شوی یئ چې د برکت وارثان شئ. ⑩ ځکه چې، "کۀ تاسو د ژوند سره مینه کوئ او ښې ورځې لیدل غواړئ، نو په



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلې ژبې بد مۀ وایئ او په خپلو شوندو دروغ مۀ وایئ. ۱۱ ښۀ
کوئ او د بدو نه ځان ساتئ، امن قائم ساتئ او د هغې کوشش
کوئ. ۱۲ ځکه چې د مالِک خُدائ نظر په صادقانو وی او د هغوئ
فریادونه اوری. خو مالِک خُدائ د هغوئ په خلاف وی څوک چې
بد کارونه کوی.“ ۱۳ نو بیا تاسو له څوک نقصان درکولے شی کۀ
چرې تاسو د نېک کارونو خواهشمند یئ؟ ۱۴ خو کۀ چرې تاسو د
صداقت دپاره مصیبتونه هم وزغمئ، تاسو له به برکت درکړے شی نو
ځکه د هغوئ په یرولو مۀ یرېږئ او زړونه مۀ بائیلئ. ۱۵ بلکې په
خپلو زړونو کښې مسیح مقدس مالِک وګڼئ، او هغوئ ته د جواب
ورکولو دپاره همېشه تیار اوسئ څوک چې ستاسو نه ستاسو د اُمید د
وجې تپوس وکړی. ۱۶ خو په نرمی او درناوی سره خپل ضمیر صفا
ساتئ نو چې څوک په مسیح کښې ستاسو ښۀ چال چلن ته کنځل
کوی نو هغوئ به بیا په داسې کولو پښېمانه شی. ۱۷ نو دا بهتره ده
چې مونږ د ښو کارونو دپاره تکلیف وزغمو، چې د خُدائ پاک د
مرضی دپاره وی، نه چې د شرارت دپاره وی. ۱۸ ځکه چې مسیح


Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ستاسو د ګناهونو دپاره یو ځل د همېشه دپاره مړ شو، یعنې صادق د ګناهګارانو دپاره، د دې دپاره چې تاسو خُدائ پاک له راولی. هغه په جسمانی توګه مړ کړے شو خو په روحانی توګه ژوندے کړے شو. ۱۹ هم دغه شان هغه لاړو او قید روحونو ته یې پیغام ورکړو. ۲۰ دا هغه روحونه وُو چې په پخوا زمانه کښې نافرمانه وُو کله چې خُدائ پاک د نوح په زمانه کښې صبر او انتظار کولو چې کله هغۀ لا کشتیِ جوړوله نو چې په کښې اتۀ کسان د سېلاب نه بچ پاتې شول. ۲۱ او دا اوبۀ د دې بپتسمې په مثال دی چې اوس تاسو بچ کوی، د دې مقصد ګندګی لرې کول نۀ دی بلکې په دې مونږ خُدائ پاک نه خواست کوُو چې د عیسیٰ مسیح د بیا ژوندی کېدو په وسیله زمونږ ضمیرونه پاک کړی، ۲۲ څوک چې آسمان ته ختلے دے او د خُدائ پاک ښی لاس ته ناست دے، او فرښتې، اختیارمند او قُدرتونو والا یې د هغۀ تابع کړې دی.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د خُدائ پاک د فضل ښۀ خادِم

۱ نو بيا چې مسيح په جسماني توګه مصيبت وزغملو نو تاسو هم د مسيح غوندې طبيعت خپل کړئ، ځکه چا چې درد او مصيبت وزغملو هغه د ګناه د قبضې نه آزاد شو، ۲ نو چې تاسو خپل نور پاتې دُنياوی ژوند په انساني خواهشونو تېر نۀ کړئ بلکې د خُدائ پاک د مرضۍ په مطابق يې تېر کړئ. ۳ ځکه چې تاسو خپل کافی ژوند پخوا په هغه څۀ کښې تېر کړے دے څۀ ته چې د بې‌دينه کار وئيلے وو يعنې په عياشۍ، شهوت پرستۍ، مستۍ، په نشه، په ګډا نچا او په ناروا بُت پرستۍ تېر کړو. ۴ هغوئ په دې حېران دی چې تاسو نور د هغوئ سره په هغه خرابه ګندګۍ کښې ملګرتيا نۀ کوئ نو ځکه تاسو ته بدرد وائی. ۵ خو هغوئ به د دې حساب خُدائ پاک له ورکوی څوک چې د ژوندو او د مړو عدالت کولو ته تيار دے. ۶ نو هغه دا چې زيرے هغوئ ته هم اوروئے شوے وو څوک چې اوس مړۀ دی چې په جسماني توګه د هغوئ



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هم هغه شان اِنصاف وکړے شی لکه څنګه چې د نورو خلقو کیږی چې په روحانی توګه داسې ژوندی پاتې شی لکه چې خُدائ پاک دے. ۷ د ټولو څیزونو خاتمه رانزدې ده، نو په دې وجه خپل ځان ساتئ او د دُعا کولو دپاره په هوش کښې اوسئ. ۸ د ټولو نه لویه خبره دا ده چې په خپلو کښې یو بل سره ډېره مینه کوئ ځکه چې مینه په ډېرو ګناهونو پرده اچوی. ۹ د شکایت نه بغېر په خپلو کښې د یو بل مېلمستیا کوئ. ۱۰ تاسو هر یو ته خُدائ پاک د خپل روحانی لوئې خزانې نه جدا جدا نعمت درکړے دے. هغه په خپلو کښې د یو بل په خدمت کښې په ښۀ طریقه استعمال کړئ. ۱۱ کۀ څوک څۀ پیغام ورکوی نو داسې وینا دې وکړی لکه څنګه چې د خُدائ پاک کلام دے، کۀ څوک خِدمت کوی نو د هغه طاقت په مطابق دې کوی کوم چې خُدائ پاک ورکړے وی، نو د دې دپاره چې په ټولو خبرو کښې د عیسیٰ مسیح په وسیله د خُدائ پاک جلال ظاهر شی. جلال او بادشاهی تل تر تله هم د هغۀ ده، آمین.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د ایماندار تکلیفونه

۱۲ زما خوږو ملګرو، کوم د مصیبت اور چې ستاسو د آزمېښت
دپاره په تاسو کښې بل دے، نو په هغې حېرانېږئ مه چې په مونږ دا
عجیبه شان خبره راغلې ده. ۱۳ بلکې خوشحالی کوئ چې تاسو د
مسیح په مصیبتونو کښې شریک شوئ، نو چې تاسو هم خوشحالی
وکړئ او د خوشحالۍ نه چغې کړئ کله چې د هغۀ جلال ظاهر
شی. ۱۴ کۀ تاسو ته د مسیح د نوم په وجه بدرد ووئیلے شی نو
تاسو بختور یئ، ځکه چې د جلال روح، یعنې د خُدائ پاک روح
په تاسو سورے کوی. ۱۵ خو په تاسو کښې دې څوک قاتل، غل،
بدکاره یا د نورو په کار کښې د لاس وهلو په وجه مصیبت ونۀ
زغمی. ۱۶ اوس کۀ په تاسو کښې څوک د مسیحی په توګه تکلیف
وزغمی، نو هغه دې دا شرم نۀ ګڼی، بلکې د دې نوم په وجه دې د
خُدائ پاک ثنا ووائی. ۱۷ ځکه چې د عدالت وخت راغلے دے
چې د خُدائ پاک د کوره به شروع شی، او کۀ دا زمونږ نه شروع



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شی نو د هغوئ به څۀ حال وی څوک چې د خُدائ پاک زیرے نۀ منی؟ ۱۸ او، ”کۀ صادق په مشکله خلاصون مومی نو د بې‌دینه او ګناه ګار به څۀ حال وی؟“ ۱۹ نو بیا څوک چې په دې وجه د خُدائ پاک د مرضیِ په مطابق مصیبتونه زغمی، هغوئ دې خپل ځانونه وفادار خالق ته په حواله کړی او همېشه دې نېکی کوی.

# د خُدائ پاک د رمې شپونتوب

۱ په تاسو کښې چې کوم مشران دی، زۀ هم د هغوئ په شان مشر او د مسیح د مصیبتونو ګواه او په ښکاره کېدونکی جلال کښې شریک یم، او تاسو ته دا خواست کوم، ۲ چې د خُدائ پاک د هغه رمې شپونتوب کوئ چې خُدائ تاسو له درکړې ده. دا خدمت د مجبوریِ د مخه مۀ کوئ بلکې د خُدائ پاک د مرضیِ په مطابق په خوشحالیِ سره یې کوئ، او د ناجائزې ګټې دپاره نه، بلکې د زړۀ په شوق سره یې کوئ. ۳ او کوم خلق چې ستاسو په



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حواله شوی دی، په هغوئ رُعب داب مۀ اچوئ بلکې د رمې دپاره
نمونه شئ. ۴ او کله چې مشر شپونکے څرکند شی نو تاسو له به
د جلال تاج درکړے شی چې کله به هم نۀ مړاوے کیږی. ۵ اے
ځوانانو، هم دغه شان تاسو هم د مشرانو تابعدار اوسئ، بلکې د یو
بل د خِدمت دپاره تاسو ټول په حلیمیِ ملا وټړئ ځکه چې،
"خُدائ پاک د کبرژنو مقابله کوی خو عاجزانو له فضل ورکوی."
۶ نو په دې وجه د خُدائ پاک د مضبوط لاس لاندې په عاجزیِ
اوسېږئ نو چې هغه تاسو له په وخت عزت درکړی. ۷ او خپله ټوله
پرېشانی په هغۀ واچوئ ځکه چې هغه ستاسو خیال ساتی. ۸ تاسو
ځان ساتئ او بیدار اوسئ ځکه چې ستاسو مخالف اِبلیس لکه د
غړمبېدونکی ازمری په شان په دې لټون کښې دے چې څوک
ژوندے تېر کړی. ۹ تاسو ایمان کښې مضبوط شئ او د هغۀ
مقابله وکړئ ځکه چې تاسو ته معلومه ده چې په ټوله دُنیا کښې
ستاسو وروڼه او خوېندې هم دغه شان مصیبتونه زغمی. ۱۰ د لږ
وخت د مصیبت زغملو نه وروستو به د هر قسمه فضل ورکوونکی



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ پاک چا چې تاسو په مسیح کښې د خپل جلال دپاره راباللی یئ، هغه به په خپله تاسو بحال کړی، مدد به مو وکړی، قوت به درکړی او مضبوط به مو کړی. ۱۱ د هغۀ قدرت دې تل تر تله وی، آمین.

# آخری سلامونه

۱۲ ما د سیلوانوس په وسیله چې زۀ یې ایماندار ورور ګڼم دا ورکوتے خط ولیکلو چې تاسو له تسلی درکړم او د دې خبرې ګواهی وکړم چې دا د خُدائ پاک حقیقی فضل دے او په دې قائم پاتې شئ. ۱۳ هغه جماعت چې په بابل کښې دے او تاسو سره یو ځائ غوره شوے دے، هغه او زما زوئ مرقوس تاسو ته سلام وائی.
۱۴ یو بل ته په پاکې مینې سره سلام کوئ. په تاسو ټولو دې سلامتی وی څوک چې په مسیح کښې یئ.